# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| افغانستان آزاد-آزاد افغانستان | AA-AA |
|---|---|


د "افغانستان آزاد – آزاد افغانستان" د پورتال ۵۲ گڼه اعلاميه

د جولای ۱۹ – ۲۰۱۰

## د افغانستان د تجزيې موضوع راپورته کول په کلکه غندو

د "افغانستان آزاد – آزاد افغانستان" مبارز او ښکيلاك ضد پورتال د خپل نشراتي اهدافو د لومړي مادې د روحيې پر بنسټ، د سپيڅلي او ګران هيواد، "افغانستان" د تجزيې مطرح کول، د هرې ډلې او ټپلې لخوا چې وي، په کلکه غندي او دا موضوع د دې پاکې خاورې د انهدام او نابودولو لپاره يوه لويه ښکيلاکي او امپرياليستي توطئه ګڼي.

د افغانستان ضد توطئه په ملي، سيمه ايزه او نړيواله کچه طراحي شوی ده:

- په ملي کچه، ستميان، شوراي نظاريان، جمعيتيان، خلقيان، پرچميان، د امپرياليزم ګوډاګيان او يو شمير ملي ضد جريدې او سايټونه سختي هلې ځلې کوي، څو د افغانستان هويت او هستي د خپلو بادارانو په لارښودنې، له جرړې نابود کړي.

- په سيمه ايزه کچه، پاکستان، ايران، هند او روسيه د خپلو کورنيو تالي څټو په کاروني سره کوښښ کوي چې افغانستان د تباهی لوری ته وکاږي او هره ولیش يې د خپلو کورنيو مريیانو او ګمارل شويو لاسونو ته ورکړي.

- په نړيواله کچه، د امريکا متحده ايالتونه، بريتانيه او د ناټو يو شمير غړي او د امريکا تابع هيوادونه په هڅه کې دي چې د خپلو ستراتيژيکو ملاحظاتو او د سياسي او اقتصادي خاصو ګټو له امله، افغانستان د تجزيې مخې ته ويسي. د کورنيو بردګانو څخه ګټه اخيستنه، څرنګه چې مو پر افغانستان د امريکې په تيري کې وليدل، کيدای شي د نړيواله امپرياليزم د ښکيلاکي هيلو د تحقق غوره وسيله وي.

د "افغانستان آزاد – آزاد افغانستان" پورټال، د هیواد د ځمکني بشپړتیا لپاره، د ټولو شومو اشغالګرانو، خاینانو او هیواد پلورونکو او تجزیه غوښتونکو سره خپله بشپړې پریکندې مبارزې ته ادامه ورکوي او پر هیڅ خاین او هیواد ضد ځواك او فرد باندې رحم نکوي.